پوهندوی آصف بهاند
۲۰۱۷/۰۸/۰۶

# د خوشال خان ختک آثار

## فراقنامه ، لومړۍ برخه

## خوشال پوهنه

## ۲۴

د خوشال په منظومو آثارو کې فراقنامه یو له هغو اثارو څخه دی، چې ده په زندان کې لیکلی دی او ډیر له سوز و ګداز نه ډک اثر دی. د دې ځیرنې پر مهال زه د فراقنامې دوه چاپي متنونه په واک کې لرم:

**۱ ــ د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي خپرونه (۱۳۶۳ ل کال):**

د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي چاپ چې په ۱۳۶۳ ل کال د راحت زاخیلي د زوکړې د سلمې کلیزې په ویاړ خپور شوی دی:


د راحت زاخیلي د زوکړې
د سلمې کالیزې پر ویاړ
۱۸۸۴ - ۱۹۸۴
فراقنامه
د
خوشحال ختک
له
سریزې، څرګندونو او ویي پانګې سره
خپرونکی
د ژبو او ادبیاتو پوهنځی
کابل - پوهنتون
۱۳۶۳
PROPERTY OF ACKU
5120

د خوشال د فراقنامې په دغه چاپ کې د خوشال او خوشال پوهنې په باب دغه مهم او اړین شیان راوړل شوي دي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ـ د «یادښت» تر سر لیک لاندې د خوشال او فراقنامې په باب د پوهاند زیار ځرګندوني،
ـ د علامه حبیبي لنډه مقدمه،
ـ د استاد پوهاند میرحسین شاه مقدمه،
ـ بیا «د سر خبرې» تر سرلیک لاندې، د فراقنامې د دې چاپ په باب توضیحات راوړل شوي دي،
ـ بیا د خوشال خان د ژوند، آثارو او مبارزاتو په باب او په ځانګړې ډول د فراقنامې د شکل او محتوا په هکله د استاد زلمي هیوادمل په قلم یوه مفصله او علمي څېړنه راوړل شوې ده،
ـ وروسته له هغه نه د فراقنامې متن راوړل شوی دی چې ټول اته سوه اوه دیرش (۸۳۷) بیتونه دي،
ـ بیا د تعلیقاتو تر سر لیک لاندې د خوشاله په فراقنامه کې د راغلو اشخاصو او ځایونو نومونو په باب معلومات وړاندې شوی دی،
ـ او په پای کې د فراقنامې په متن کې د راغلو ځینو هغو لغتونو مانا راوړل شوې ده چې د فراقنامې د متن په لوستلو کې له درنو لوستونکو سره مرسته کوي.

**۲ ـ د خوشال خټک کلیات، د زاهد مشواني اوډنه:**




د خوشال د کلیاتو په دې چاپ کې، د خوشال د نورو منظومو آثار تر څنګ د فراقنامې متن، پرته له مقدمې او توضیحاتو نه راوړل شوی دی او د کلیاتو له ۶۴۵ مخ نه تر ۶۸۲ مخ پورې، ایښودل شوی ده. دغه څو بیتونه دي:

چې پــه کــور کــې خـلـلــې وي
زر د کــــانـــې د تــلـــې وي
یـو ورک بنه، که ډیر ورک بنه وي
یو سپک بنه، که ډیر سپک بنه وي
کـــه یـــو روز حـــلالـــه ویـنـه
د ســـردار چـــار ده مـهـیـنـه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مـــه يـــي اغـــونـــدئ، مـــه خـوانئ
د ســـردار حــــكـــــم خــــو وانئ
هـــم پـــه دا مـــي اخــتــتـام دی
پــه هــمــه وو مـــي ســلام دی
كـــال د غـــم لاړ، مياشت اختر وه
دا نـــامـــه چـــي نـظـر زر وه

(د خوشال كليات، د زاهد مشواني اوډنه، د ۲۰۰۵ كال چاپ، ۶۸۲ ام مخ)

علامه حبيبي په ۱۳۶۱ كال د خوشال د فراقنامي د نوي چاپ په سريزه كي د خوشال د همدې كلياتو په باب داسي ليكلي وو:

«پنځه ځلوينت كاله تر اوس د مخه، چي ما د خوشحال خان بشپړ كليات په قندهار كي په ۱۳۱۷ شمسي چاپ كړ، په هغه وخت كي خوشحال پيژندني، تش په څو انگريزي كتابونو پورې اړه درلوده او پښتنو هم ډير لږ پيژانده او د ده فكري او شعري آثار نه وه را برسيره سوي.
خو په دې وروستی نيمه سدئ كي د دې لوړ ادبي، سياسي او جنگي سړي ستر شخصيت دوني روښانه سو، چي بيله كلياته يي نور نا معلوم آثار هم وموندل سوه او د دنيا ادبي او علمي ټوليو ته په چاپي توگه وړاندې سول.
خوشحال خان په دستارنامه كي يو خپل بل كتاب د فراقنامي په نامه ښيي او بيا د ده زوی گوهرخان په قلب السير كي فراقنامه يادوي، خو تر اوسه يي كومه نسخه چا ته نه وه معلومه.
فراقنامه د خوشحال د حبسياتو مجموعه ده چي په ۱۰۷۵ هـ ق كال يي د رنتهبور په كلا كي بشپړه كړې ده. په شكلي لحاظ دغه كتاب غزلي، قصيدې، قطعې او مثنويات لري، خو په موضوعي توگه دهغه وخت پر سياسي ورانيو وغيرې او كله، كله رندانه غزلي هم وايي، د پښتونخوا په بيلتانه كي سوې ساندې وايي بولي، پښتانه او د «روه سيمه» آن تر كابله په خورا حسرت يادوي، مگر دی له دې دوني فشارونو سره، سره بادشاه ته د خپل خلاصون زاری او جيگی نه كوي، بلكي اعمال يي سخت غندي.
د دې نسخي گرده مواد داسي نه دي، چي د خان په نورو آثارو كي دې نه وي راغلي، ډيره لږه برخه يي هلته سته، خو ډيره ونډه يي نوي او نا چاپه ده.
ښاغلي زلمي هيوادمل دغه نسخه د اوسني عصر له انتقادي او تحقيقي دود سره سمه، چاپ ته تياره كړې او يوه گټوره مقدمه يي هم د لازمو ځرگندونو او لغتنامي سره پر كښلي ده.
ځكه چي د خوشحال خان دغه كتاب تر اوسه نه دئ چاپ سوئ او د ده د ژوندانه يوه مهمه برخه د هندوستان د رنتهبور په زندان كي ښيي او هم د ده مبارزه د اورنگزيب له ظالمه نظامه سره ځرگندوي، نو يي د كابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو د پوهنځي د پښتو څانگي د شاگردانو له پاره د يو درسي اثر په توگه د چاپولو سپارښت كيږي، چي د دغي مؤسسي له خوا خپور سي.» (ختک خوشال خان، فراق نامه، د راحت زاخيلي د زوكړې د سلمي كليزې په وياړ د كابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي خپرونه، ۱۳۶۳ كال، د حبيبي صاحب مقدمه، ج او د مخونه)
باين ترتيب خوشحال خان را نه تنها بايد شاعر بزرگ شمرد و به زبان پښتو منحصر دانست، راست است كه غالب آثارش را به پښتو نوشته و كليات اشعارش به اين زبان ميباشد، اما حتى در ديوان او ميتوان اشعار نغز دري، كه از خود اوست، يافت. و در آثار ديگر وي، به خصوص دستارنامه نقل قول های از شعرای بزرگ زبان دري و كلام بزرگان عرب يافت. ترديدې نيست كه خوشحال خان از ادبيات دري بهره كافي داشت و به زبان و ادبيات عرب آشنا بود. وسعت معلومات وي در علوم اسلامي از آثارش روشن است...»
(ختک خوشال خان، فراق نامه، د راحت زاخيلي د زوكړې د سلمي كليزې په وياړ د كابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي خپرونه، ۱۳۶۳ كال، د پوهاند ميرحسين شاه مقدمه، هـ ــ و مخونه)

نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكني د ليكنيزې بني پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليرلو مخكي په ځير و لولـئ